## مطبوعاتي اعلامیه

## د روژې سپېڅلې میاشتې په جریان کې، د خلافت د رښتیني مدافع نوید بټ د خوشي کېدو لپاره غږ پورته کړئ، چې د ۲۰۱۲م، د مې پر ۱۱مه برمته شو

**اې د قدرت څښتنانو او متنفذینو!** موږ پر تاسو غږ کوو، چې د خپل نامتو ورور نوید بټ د خوشي کولو لپاره له خپل ځواک او نفوذ څخه کار واخلئ. موږ د عمر فاروق او حمزه رضی الله تعالی عنهما زامن یو چې د شهیدانو سرداران وو، دوی په خپل قوت او نفوذ سره د اسلام غږ پورته کړ، تر څو د الله سبحانه و تعالی رضایت تر لاسه کړي.

نوید بټ، موږ ټولو ته د معرفت لاربښود، د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس مدافع او د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان رسمي مطبوعاتي ویاند و. زموږ ګران ورور نوید بټ د ۲۰۱۲م، د مې په ۱۱مه، د کیاني ـ زرداري رژیم د غلو واکمنانو له لوري ونیول شو. د ۲۰۲۱م، د مې پر ۱۱مه، پر یو مومن باندې د ظلم پوره نهه کلونه تېر شول، جرم یې دا و، چې ویل یې؛ رب یوازې الله سبحانه وتعالی دی. د روژې په دې سپېڅلې میاشت کې، موږ له تاسو غواړو چې د هغه قضیه راپورته کړئ او د هغه د خوشي کېدو غوښتنه وکړئ، تر څو د ظلم لسم کال پرې تېر نه شي. موږ له تاسو څخه غواړو چې د نوید بټ او د هغه له کورنۍ سره په کړاوونو کې مرسته وکړئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ اَلدُّنْيَا، نَفَّسَ اَللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ اَلْقِيَامَةِ»** (مسلم)

***ژباړه:*** *که څوک یو مومن د دې دنیا له یوې ستونزې څخه خلاص کړي، الله سبحانه و تعالی به هغه د قیامت له یوې ستونزې څخه خلاص کړي.*

**اې په پاکستان کې د قدرت څښتنانو، متنفذینو، علماوو، ژورنالیستانو، وکیلانو او د سوداګریزو ټولنو استازو!** زموږ ځواک، نفوذ، حیثیت او امتیاز د الله سبحانه وتعالی له فضل پرته بل هېڅ نه دي، چې هر وخت له موږ څخه کار اخیستل کېدای شي. په حقیقت کې زموږ ځواک، نفوذ، حیثیت او امتیاز یو باور دی چې په اړه یې موږ د الله سبحانه وتعالی له لوري محاسبه کېږو. اوس هغه وخت دی چې موږ خپل ځواک او نفوذ په غوره ځای، د الله سبحانه وتعالی په عبادت او د هغه د دین د واکمنۍ لپاره وکاروو. موږ باید په داسې وخت کې پر خپلو وړتیاوو پانګونه وکړو چې اسلامي امت په دې دنیا کې له خپې موخې سره سم، د الله سبحانه وتعالی عبادت، د اسلام د تطبیق له لارې د ژوند، واک او دولت په توګه کار وکړي. په حقیقت کې د خلافت غوښتنه د

اسلامي امت تر ټولو ستره غوښتنه ده، چې دا د اوسنيو واکمنانو ناهيلي ښيي، چې د خپلې ګمراهۍ او ګناه له لارې يې له بدبختۍ او سپکاوي پرته بل څه نه دي راوړي. په حقيقت کې د اسلامي امت له رهبر پرته امت د هغه يتيم په څېر دی، چې سرپرست او مسوول نه لري، ځمکه يې غصب شوې، شتمنۍ يې لوټل شوې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر وقار له مناسب ځواب پرته بريد کېږي.

**اې د شهيدانو د سردارانو، عمر فاروق او حمزه رضی الله تعالی عنهما زامنو!** په حقيقت کې، کله چې يو جماعت رامنځ ته کېږي، هغه يو امام ته اړتيا لري چې هغه رهبري کړي. همدا موږ د قدرت او نفوذ خلک يو، چې بايد دا مسووليت تر سره کړو او مسلمانان د واقعي بدلون لوري ته وروګرځوو، چې پرته له الله سبحانه وتعالی څخه له بل چا وېره ونه لري. زموږ ورور نويد همداسې وکړل او دا زموږ ټولو لپاره غوره تذکر دی، چې الله سبحانه وتعالی به زموږ سربښندنې او زموږ له ثابت قدمۍ پرته په حقيقت کې خپل نصر (فتح) راونه لېږي. په دې توګه، موږ ټولو ته په کار ده چې د هغه په اړه غږ پورته کړو، د هغه د خوشي کېدو غوښتنه وکړو او د هغه پر ځای ودرېږو او د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بيا تاسيس غږ پورته کړو. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾** [توبه: ١١١]

*__ژباړه:__ حقيقت دا دی چې الله سبحانه و تعالی له مومنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدل کې اخيستي دي.*

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**١۴۴٢ هـ.ق، د رمضان ٢٠مه**

**٢٠٢١م، د مې ٢مه**

**د صدور ګڼه: ٧٠/ ١۴۴٢**

**#FreeNaveedButt**